# د افغاني ټولنې اوښتون د مجروح صاحب د "پېغام" په رڼا کښې لیک

## Social change in Pashtun society as depicted in the poetry of "Majrooh"


پروفېسر ډاکټر فضل رحیم مروت*

ډاکټر اصل مرجان (محب وزیر)♣



## Abstract:

"Pegham" is small booklet of poem of late Professor Dr. Bahuddin Majrooh with his own critic of changing behaviors and attitudes during Afghan Revolution and resistance. He himself a victim of Saur Revolution was living in Peshawar in hope and despair with hope for peace in his beloved country. In this article an attempt has been made to highlight the feeling of an eminent philosopher, scholar, teacher and poet with nostalgia. sitting in place like Peshawar where everyone was talking about war with the gun consciously or unconsciously, he was bold to talk of peace, of pen and pinpointed the changes in the attitudes, behavior and character of various segments of Afghan society during the resistance and proxy war. The hangover of the tragic events still persists on both sides of Durand line.


"پېغام" د پوهاند ډاکټر بهاؤالدین مجروح نظم دی چې په 1385 لمریز کال کښې د نبراسکا تعلیمي مطبعه نه خپور شوی دی" (1). دا پېغام د یوې افغانۍ مور له خوا خپل زوی ته استول شوی دی، څوک چې په مورچه کښې ناست دی او د حریت په نوم په جنګ کښې بوخت دی. دا طویل نظم په خپل منځ کښې بیا په وړو وړو عنواناتو وېشل شوی دی. نظم کښې د ثور انقلاب نه پس ته د افغاني ټولنې د ثقافتي اوښتون یوه په زړۀ پورې مطالعه او مشاهده پرته ده. دا نظم که څۀ هم په ډېره سنجیدګۍ سره وئیل شوی دی، خو دننه پکښې د طنز یو عنصر پروت دی چې لوستونکی زیات متاثره کوي. دغه مور که څۀ هم د خپل چاپېرچل حالات بیانوي، خو شاعر په کښې د طنز په وسیله د زامنو کردار په کښې په ګوته کوي چې څرنګه دوی خپلې میندې بې اسرې پرېښې دي او د دوی خواهشونه او ارمانونه یې څرنګه د خاورو لاندې کړي دي.

مجروح صاحب په خپله د یو مېلمه یا مهاجر په حېث پېښور کښې میشته ؤ. د Afghan Information Centre د نوم سره یې خپل هېواد کښې د صلحې، امن او جرګې د پاره کار

* Vice Chancellor, Bacha Khan University, Charsadda

♣ Lecturer Pakhtoonkhwa Study Centre, Bacha Khan University, Charsadda

کولو. دوی او یو عام افغان مهاجر کډوال کښې فرق دا ؤ چې دی باسواده ؤ، عالم، فلسیوف، شاعر او ادیب ؤ. د دوی پلار شمس الدین مجروح صاحب د ظاهر شاه باچا په وخت کښې وزیر هم پاتې شوی ؤ. پوهان مجروح صاحب په پېښور کښې د اسلام اباد، افغان حکومت او مهاجرین سرکاري رويې او دوه اړخیزه پالېسي، د افغاني ګوندونو جوړښت او د استخباراتو سره تړون ټول په خپلو سترګو کتل، د افغاني ګوندونو په خپلو کښې نااتفاقیو کښې مذهب، فرقه، قبیله او خپل خپلو مفاداتو د پاره استعمالول، د افغانستان د مسئلو د حل د پاره شوری ګانې او اتحادیې جوړول او ورانېدل هم لیدل. بل خوا د ثور انقلابي دعوېداران هم خپل منځ کښې د چوکۍ د پاره جنګونو او غلطو اصلاحاتو په شا تمبول او د ماسکو او یو څو چپ لاسو هېوادونو چې د کابل ملګرتیا کول، نور ټول غرب، امریکه او شرقي اسلامي هېوادونو په شمول د اسلام اباد ټول د کابل په ضد اودرېدل. دا هر څۀ مجروح صاحب د نظر د لاندې وو. داسې سیاسي کشمکش چې بین المللي شکل یې واخستو او رښتیا خبره خو دا ده چې افغان اولس که افغانستان کښې وو یا بل هېواد کښې وو، بې اختیاره او بې وسه شو او د خپل قسمت فیصلو په لړ کښې یې نورو ته کتل شروع کړل.

ټولنه خپل اړخ همېشه راسې په دوو صورتونو کښې بدلوي. یا خو د خاموشۍ په بهیر کښې خپل اړخ بدلوي چې دا رفتار یې ډېر سست او غېر محسوس وي دا قسمه بدلون د ټولنې د ارتقايي پروسې په نتیجه کښې مخې ته راځي. ټولنې یا اولس ته هډو محسوسېږي نۀ او یا یې بیا د هنګامه خېزۍ په صورت کښې بدلوي چې دا رفتار یې یو مخ انقلابي او تېز وي. دا بدلون بیا ډېر خونړی وي. غریب مالدار او مالدار غریب کړي، مزدور د قوت مالک کړي او باچا وېرزوي. ملک، خان او سردار بې وسه کړي او پیر، ملا او کماندان سردار یا د قبیلې مشر کړي.

افغاني ټولنې د ثور انقلاب نه پس خپل اړخ ډېر په تېزۍ سره بدل کړو. دغه دور د افغاني ټولنې په تاریخ کښې د هنګامه خېز دور په معنا کښې هم اخستی کېږي. د هنګامه خېزۍ په دوران کښې عموماً یوه ثقافتي خلا په وجود کښې راځي. د ثور انقلاب نه پس د هنګامه خېزۍ په دې دوران (چې د جهاد یا فساد دور ورته هم وئیلی کېږي) کښې یوه ثقافتي خلاء لیدل کېږي. ثقافتي خلاء د ډکولو د پاره په ټولنیزه مطالعه کښې د عبوري دور اصطلاح مخې ته راځي. د ټولنې زاړۀ اقدار یا زاړۀ کردارونه چې د وګړیو د ضرورتونو د پوره کولو نه قاصره شي، نو نوي اقدار یا ټولنیز کردارونه مخې ته راځي چې د وګړیو د ضرورتونو د پوره کولو کار کوي او دارنګې یو ثقافتي اوښتون په وجود کښې راځي. لکه ډاکټر مبارک علي د سندھ د تهذیبي بدلون په اړه وايي "اوبۀ راغلو ـــ او ـــ غوای لاړو" (2).

دا دوه عکسونه په خپل ځان کښې يو لوی تاريخ لري. هغه ښودل غواړي چې عرب کلتور د مذهب په ترخ کښې سندهـ ته راغلو او د سندهـ خپل کلتور او مذهب دواړه لاړل.

د ادب تعريفونه هر چا د خپلې خوښې او نظريې په اساس مرتب کړي دي، خو زما په نزد د ادب تعريف د دور د مطالعې دويم نوم دی. نومیالي فرانسيسي فلاسفر ژان پال سارتر د يو شاعر د تخليق عمل ته څۀ دا رنګې ګوري:

"شاعر پوهېږي چې د يو غوره او لوړ ادب د تخليق د پاره د عمومي تعقل د کچې نه ډېر لاندې کوزېدل وي. د حقيقتونو په سمندر کښې به ورته لامبو وهل وي، دارنګې به هغه انساني روح پورې ورسي، چرته چې انسان هر څۀ رد کوي او هر څۀ قبولوي، چرته چې هغه د خپل ذات، ماحول او فطرت سره د يو ځای کېدو تر څنګ يوه معجزه وښکاري"(3).

د مجروح صاحب د نظم لوستو نه پس مونږ ته دا درک ډېر په اسانه لګي چې هغه د افغاني يا پښتني ټولنې د اولسي تعقل نه ډېر لاندې سفر کړی دی او د ټولنې د رد او قبول ټول احوال يې زمونږ مخې ته راوړی دی. خو دا د يو ستر فنکار او تخليق کار کمال وي چې د عبوري دور په روان بهير کښې يې هم د تخليق سرچينه د لاندې کچې نه رانيولې ده او برنۍ کچه يې ترې سازه کړې ده. دا نظم يو دستاوېزي داستان دی چې ببخي يې په اولسي او قيصه ايز رنګ کښې وړاندې کړی دی. دغه نظم کښې مثبت (Positive) او منفي (Negative) کردارونه په ګوته کېږي. بل په کښې دا عنصر هم مخکښې راځي چې کوم کار مصنف ته منفي ښکاري، د کلي اولس خلقو ته هغه يومخ مثبت ښکاري. کوم کار چې يو تن د انقلاب په نوم کوي، هغه بل يې بيا د جهاد په نوم کوي، کوم کار چې يو تن د مذهب په نوم کوي هغه بل يې د لادينيت په نوم کوي او د قتال او نفسانفسۍ دا سلسله دغه شان روانه ده. هم دغه نظر مجروح صاحب په يو بل کتاب (چې په يو وخت يې په درې ژبو کښې ليکلی دی. پښتو کښې د "ځان ځانۍ ښامار" دري کښې د "اژدهای خودي" او فرانسيسۍ ژبه کښې هم چاپ دی او د انګليسۍ ژباړه يې د Ego Monster په نوم ډاکټر جان کېرن کړې ده) کښې هم وړاندې کړی دی.

"پېغام" کښې مور دغه قيصه د خپل خاوند د مرګ نه راشروع کوي او خپل ځوان زوی ته وريادوي چې څنګه ماشوم راته پاتې شوې او بيا څنګه په خوارو زارو مې را لوی کړې. د کونډتون د عمر يوه يوه لمحه وريادوي او د هغه دور سماجي رويې ورته بيانوي:

تا ته ناسته وم چې تا به خدای رالوی کړی
جانشين به د خپل پلار شاه زلمی زوی کړي
نو به زۀ شم اخر خلاصه له تهمته
له زحمته، د لېورانو له افته (پېغام:6)

خو چې څنګه د کونډې ماشوم زوی د ځوانۍ په درشل قدم ږدي، نو په وطن یوې بلې بلا سر راپورته کړي وي. د جهاد اعلان شوی وي او روسانو ته د ماتې ورکولو د پاره د ملت هر ځوان مورچل ته رسېدو په هڅه کښې وي.

مجروح صاحب په خپل دغه نظم کښې هغه ټول سماجي کردارونه یو په یو د کونډې په خولۀ بیانوي چې د افغانستان په دې عبوري دور کښې یې خپل سماجي حېثیتونه بدل کړي رابدل کړي دي. چرته چې د خلقي او پرچمي په تور کښې د کلي د پوهانو قیصه د سورګل معلم په ترڅ کښې کوي، د مشرانو او مخوریزو د حېثیتونو د پامال کېدو او د حجرو د نسکورېدو داستان د خان زرین خان یا ابراهیم ملک په رنګ کښې زوتوي:

سور بیا خلقو ته کړلو دا بیان هم
چې روسان زمونږه ورونه دي دوستان هم
خلق ټول ورته په قار هک حېران وو
په سور ګل ناست لېوني شان ته پېریان وو

(پېغام (سورګل معلم): ۲۰)

د دې کلي مشر خان چې خان زرین ؤ
مال جایداد وه خدای ورکړی اس یې زین ؤ
هغه لاړلو برباد شولو رسوا شو
کور یې خلقو په اور وسو مال تالا شو
څۀ ورېرونه پرچمیان زامن خلقیان دي
د روسانو وفاداره غلامان دي

(پېغام: ۱۵)

خلق ډېموکرېټک ګوند په دوو ډلو یادېدل. یو ته به یې خلقیان وئیل چې مشري یې نورمحمد تره کي کوله او بلې ډلې ته به یې پرچمیان وئېل چې مشري یې ببرک کارمل کوله. د خلقیانو د ډلې د "خلق" په نوم مجله خپرېده او د پرچمیانو مجله د "پرچم" په نوم خپرېدله. دغه ګوند په افغانستان کښې د اپرېل 1978ء انقلاب او د روسیې له خوا د انقلاب د مرستې په ترڅ کښې د روس پلوه ګڼل کېږي. سورګل معلم ته د سزا ورکولو په وخت کښې د ابراهیم خان ملک کردار رامخې ته کوي. ابراهیم خان چې د سورګل پلار وي او د سورګل معلم په فکر او فلسفه هم پوهه وي خو د کلي د جهادیانو نه داسې مجبور شي چې خپل زوی ته په خپله سزا ورکوي. دلته د ابراهیم خان د عمل په ترڅ کښې شاعر دوه کلتوري قدرونه رامخې ته کوي. وړومبی دا چې

سورګل ته په خپله سزا ورکولو کښې به د ابراهیم خان ملک د لوی پېغور څخه په امان شي، دویم دا چې د ابراهیم علیه السلام د قربانۍ یاد د تازه کولو په رنګ به یې په کلي او وطن کښې نور هم عزت جوړ شي. دلته ابراهیم خان په دې هر څهٔ پوهه وي چې زوی مې د سزا څخه په هیڅ صورت د وتلو نهٔ دی. نو په داسې وخت کښې هم ابراهیم خان د خپل عقل او دانش یوه داسې فیصله کوي چې هم د پېغور نه ځان بچ کړي او هم خپل خاندان د محفوظ ساتلو لاره هم پیدا کړي:

ویلــې خلقــو سم غــوربونه راته کــېږدئ
دا سړی زما خپل زوی دی ماته یې پرېږدئ
ابراهیم خپــــل زوی روان کـــــړو نازولی
په یـوهٔ تیــــږه باندې یــې کښېنوه لاس تړلی

ابراهیم سپین ږیــري ووئېل خپـــل زوی ته
شه! قبلې ته زارۍ وکـــړه پاک رب لوی ته
زویــــه! وایـــــه الله یـــــو دی لایــــــزاله
ســــورګل چوپ ؤ بې پروا ناست ؤ بې خیاله
زویـــــه وایــــــه! مـــــرګ روا دی د کافرو
ســــورګل چوپ ؤ ســـر یې ځوړوند په ټټر ؤ
ابراهیــــم بیا تــــوره کش کــــړله ابداره
ســــورګل زوی خپل یې حلال کړو په قلاره

(پېغام (ابراهیم ملک): ۲۳-۲۲)

دغه نظم کښې د سورګل ډوبه خاموشي ځومره لوی نظریاتي کمټمنټ په ګوته کوي او شاعر ځومره په ټولنیزو رویو باندې طنز کوي چې محض د خپل عزت او خپل خاندان د ساتلو په غرض یو پلار د خپل زوی په مرۍ چاړهٔ تېروي. په داسې صورت کښې خپل نظریاتي کمټمنټ تش په خاموشۍ هم ممکن کېدی شي.

دا د یو خان زرین خان یا ابراهیم ملک قیصه نهٔ ده. دغه روانه شخړه کښې تر ننه پورې مونږ وینو چې د امو نه تر اباسینه پورې ځومره سیاسي او سماجي خاندانونه لوټې لوټې شول، برباد او تباه شول. د خپل تاریخي سماجي کردار نه لرې کړل شول. د قیصو، مرکو او جرګو روایت یې یو دم شو. دلته نه په سماج کښې خلا پیدا شوه او د دغې خلا د ډکولو د پاره د نور یو شمېر کردارونه رامخې ته کړل شول.

جلاد خان ډاکو په مجاهد بدل شو، شینا غوبه په کمانډر بدلېږي، نوروز اهنګر ته د کلي عزت او حرمت ور په برخه شو، تور طالب او محمد صادق ملا د مفتیانو حېثیت ونیوو. د نوروز اهنګر خبره هم کوي چې په دغه دور کښې يې د ټوپکو د جوړولو او د کارتوسانو د ډکولو په کاروبار کښې ځومره سرمایه جوړه کړه او نن يې کوم سماجي حېثیت ترلاسه کړی دی:

"ستا به دا غلط ګمان شي زویه! ګرانه
چې د کلي د عزت حجره شوه ورانه
پیدا کړو خدای یو بل شان د حرمت ځای
د نوروز اهنګر حجره اوس د عزت ځای
جوړوي مات ټوپکونه نوروز خان اوس
کارتوسونه ډکوي په هر هر شان اوس

(پېغام (نوروز اهنګر): ۱۶)

جلاد خان ډاکو اوس هغه بدکار نهٔ دی
د په خوا په شانې اوس داړه مار نهٔ دی
خدای په نېکه لار سم کړی مجاهد دی
خونړی دښمن د هر کافر ملحد دی

(پېغام (جلاد خان ډاکو): ۱۲)

آ زمونږ د چم غوبه په نوم شینا اوس
لرګبنی غوبني نهٔ کړي د هیچا اوس
په شینا پسې نن ګرځي ماشینداري
ډېر ځوانان ورته ولاړ قطار قطاري
اوس شینا ورته ځوک نهٔ وايي کار بل شان دی
د شینا هوا بدله، قوماندان دی

(پېغام ((شینا) غوبه): ۱۴)

سر خرېلې، اوږده ږیره يې پرې ایښې
غټه پګه يې هم پاس په کوپړۍ ایښې
د کوم بل ملک ږیرور غټ طالبان تل
ډلې ډلې وي په دهٔ پسې روان تل

(پېغام (تور طالب): ۱۷)

دغه خلاء د ډکولو هڅه خو وشوه، ولې لاتراوسه ورته استحکام حاصل شوی نهٔ دی. څکه چې یو عبوري دور ته استحکام هله ترلاسه کېږي چې د وګړیو د ضرورتونو د پوره کولو جوګه شي".(4) افغاني یا پښتنه ټولنه کښې چې بره ذکر شوي کوم نوي سماجي کردارونه رامخته شوي دي، د هغو په اړه لا د ټولنې په مجموع کښې یو تشویش موجود دی او دا تشویش چې ترڅو پورې موجود وي، تر هغې به مونږ دې ته عبوري دور وایو او دغه عبوري دور کښې مونږ وینو چې د درېمې نړۍ غربت، جهالت، بې سوادۍ او د ښاریو او کلو په منځ کښې تضاد په سیاسي و مذهبي، اقتصادي او ټولنیزو تضادانو کښې بدل شي او له کور کلي شروع شي او اخر کښې ښار او د اقتدار ماڼیو ته ورسېږي. دغه وخت د یو بېدار، هوښیار، دیانتدار او سیاسي بصیرت لرونکی مشرتابه ضرورت وي چې دا ټول تضادات په نظر کښې وساتي او قام د بحران نه وباسي. په دغه اړه د باچاخان دا وینا زمونږ نوره هم مرسته کوي چې انقلاب د سېلاب په شان وي. بې اتفاقه او اودهٔ قامونه سېلاب څان سره یوسي او ویښ او متحد قامونه ورته بند وتړي او خپل استعمال کښې یې راولي"(5).

دغه دور کښې مونږ د پښتني ټولنې بدلونه لیدلي او کتلي دي او دا دي د مجروح صاحب په نظم کښې مو ډېر په دقیق نظر سره وهٔ هم لوستل. ټولنیز او کلتوري بدلونونه د ټولنې یوه ارتقایي لړۍ وي. د ثور انقلاب په ترڅ کښې د ډېرو پوهانو دا رایې هم ده چې افغاني یا پښتنه ټولنه یې په شا بوتلله او په دغه تناظر کښې ورته د انقلاب په ځای د کودتا نوم کاروي. خو د مجروح صاحب د نظم په ترڅ کښې مونږ وینو چې یو غریب اهنګر یا غوبه ته د کلي اولس مشري ورپه غاړه کېږي. د کلي د تورطالب حېثیت یودم په اولس کښې د یو مخوریز وګړي په شکل کښې راځي. نو څکه مونږ دا په دعوا سره وایو چې انقلاب په شا نهٔ دی راغلی، بلکې مخ په وړاندې روان دی.

نن چې په سرسري نظر مونږ د جلادخان کمانډر، د نوروز اهنګر، د شینا غوبه او د تور طالب د نوي سماجي کردارونو ته ګورو، نو په هیڅ صورت نهٔ ده ستائیلو دي او نهٔ ټینګولو او د لږ ساعت د پاره مونږ د هغو پوهانو د خیال ملګري هم جوړېدی شو چې ګني انقلاب په شا راغلی دی. خو که په دقیق نظر سره ورته ځیر شو نو مونږ وړاندې وئیلي دي چې دا یو عبوري دور دی او دا عبوري دور چې څنګه د خپل استحکام مرحلې ته رسي، نو د انقلاب د کامیابۍ اثرات به هم رابرڅېره کېږي. دا نوي کردارونه لګیا دي ورو په ورو په ټولنه کښې ځانونه سموي او ټولنپوهنې علم مونږ ته دا ښیي چې د اهنګر یا د غوبه اړیکې چې د کومې طبقې سره وي، ارو مرو به د هغې طبقې د مفاداتي نظام مرسته کوي او دلته به ثور انقلاب خپل منطقي انجام ته ورسي.

# حوالې

(1) مجروح، بهاوالدين، سيد، پېغام، براسکا تعليمي مطبعه، 1385 لمريز

(2) The Daily Dawn, Karachi, 28-6-2015

(3) ژان پال سارتر، سياه فام اديب اور سماجي تبديلي، مضمون، مشموله: سماجي تبديلي، ترجمه: خالد سهيل، مرتبه: ډاکټر خالد سهيل، کراچي، سټي بک پوائينټ، 2012-13، ص:24

(4) صلاح الدين، عمرانيات، بار چهارم، کراچي، مکتبه فريديه، 1993، ص:278

(5) مروت، فضل الرحيم، ډاکټر، ملي غورځنګ، ژباړه:پروفېسر نصيرالدين، پېښور، باچاخان ريسرچ سنټر، 2012، مخ:3